# افغانستان آزاد ـــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



قاسم باز


۱۹ مارچ ۲۰۲۰

## د سلیمان لایق د شعر په ځواب کي.

تا ویل چی خرابات به هدیره شی
ما ویل اخوان به تا سره دیره شی
+++
تا ویل چی هسی کفر چا لیدلی
ما ویل چی به مکه په وینو سره شی
+++
تا ویلی وو د ناز تازه گلونه
ما ویل چی دا به ستا په لاس اره شی
+++
تا ویل دامن کوربه
ما ویل دا به جلاد په اجاره شی
+++
تا ویل ایشا غمی به
ما ویل چی به د ستا په لاس ایره شی
+++
تا ویل چی هر مامون به، د امان د کرښی وځی
ما ویل چی دا جگړه به، ستا له خوا نه را خپره شی
+++
تا ویل چی نور به نوي منصور نه وی
ما ویل چی ځوان منصور به ستا د لاسه غرغره شی.
+++

شعر از سلیمان لایق و قاسم باز
۱۷ مارچ ۲۰۲۰
ویرجینیا امریکا.
په دی شعر کی ( تا ویل) د سلیمان لایق شعر دی او (ما ویل) د قاسم باز شعر دی.